# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

ژباړه: احمد شاه وردک

۲۲ می ۲۰۱۲

### په اسراییلو کی دامریکی سفیر ډان شاپیرو:

# په ایران دامریکی د پوځی یرغل طرح چمتو ده!

په اسراییلو کی دامریکی دمتحدو ایالتونو سفیر وایی، په ایران دامریکی پوځی یرغل نه یوازی داچی شونی دی، بلکی دهغی دپلی کیدو کړنلاره هم چمتو ده....

دویچه ویلی : په اسراییلو کی دامریکی سفیر وایی چی په ایران دامریکی پوځی برید نه یوازی داچی ترلاس لاندی دی، همدارنګه دهغی دپلیکدو چاری هم بشپړی شوی دی. له بلی خوا په ایران د یرغل دبریالیتوب په هکله په عامه افکارو کی شکونه زیاد شوی دی.

اسراییل داسلامی جمهوری د اتومی پروګرام د درولو لپاره په دغه هیواد دلا ډیر زوراچولو غوښتونکی دی. په بغدادکی د ۱+۵ د خبرو په درشل کی داسراییلو دولت ټینګاروکړ چی دخبرو اترو دناکامی په صورت کی اسراییل داسلامی جمهوری په اتومی تأسیساتو برید دځان لپاره خوندی ساتی.

په اسراییلو کی دامریکی سفیر ډان شاپیرو اوس ټینګار کړی چی د ایران پروړاندی پوځی برید د امریکی د دولت لپاره هم دیوی ((رینتینی)) کړنلاری په توګه مخ ته پرته ده.

دپنجشنبی په ورځ د وری دمیاشتی په ۲۸ ډان شاپیرو داورشلیم (بیت المقدس) دیوی راډیو سره په یوه مرکه کی په ډاګه کړه :(( مونږ غوره ګڼو ترڅو دغه لانجه د دیپلوماتیکو لارو حل شی ، تردی چی پوځی حل ته اړایستل شو)).

ده دخبرو په ترڅ کی ټینګار وکړ:(( داپه دی معنی نده چی پوځی تګلاره په تولیزه توګه تر لاس لاندی نده. داتګلاره نه یوازی چی ترلاس لاندی ده، همدارنګه چمتو هم ده)).

دامریکی سفیر پخوا دجنوری په میاشت کی هم دیوی اسراییلی ورځپاڼی سره په مرکه کی په دی خبره ټینګار کړی وچی: (( په ایران دپوځی برید ، تګلاره ترلاس لاندی اوچمتو ده اوهره ګړی چی جمهور رییس پریکړه وکړی ، پلی به شی)).

ددی ترخنګ چی دایران داتومی پروګرام د درولو لپاره په تګلارو زور اچونه لوړه شوی، دامریکی دسفیر ډان شاپیرو په خبره ، دامریکی دموکرات حکومت اوس هم په دی باوردی چی په ایران بندیزونه اوددی هیواد ګوښه کیدنی دیورانیمو په بډایولو کی اغیزمن و.

له بلی خوا، دبنیامین نتانیاهو دولت ددی فشارونو ترڅنګ د ایران د اسلامی جمهوریت په اتومی تأسیساتو د وړاندینی برید په هکله په ولسی خلکوکی د دی برید دبریالیتوب په هکله شکونه مخ په ډیریدو دی. دهغه سیاستوالوشمیره چی په ایران دپوځی برید سره مخالف دی اوپه عامه غونډوکی خپل مخالفت هم ځرګندوی ، په وروستیو اونیو کی مخ په ډیریدو دی.

داسراییلو دڅارګری اداری(موساد) پخوانی مشر، معیر داګان په دی باوردی: (( دایران بمبارول هغه احمقانه کار دی چی تراوسه می ترغوږو شوی. هرڅوک باید په پوه شی چی په ایران برید به په سیمه کی دداسی جګړی اوربل کړی چی په اسراییلو به دایران اوحزب الله دراکټونوبی دریغه ګزارونه له څانه سره ولری)).

داسراییلو پخوانی لومړی وزیر ایهود اولمرت هم وایی : (( دوی [دنتانیاهو دولت] په لوړ ږغ خبری کوی اوپه دی کارسره دپارولو یوه فضا جوړوی چی کیدای دمهارولو چاری یی لاسه ووزی. په اوس وخت کی دپوځی برید کولو لپاره هیڅ دلایل نشته)).

داسراییلو د پوځ دستر درستیزددفتر مشر، بنی ګانتس هم په دی باور دی چی دایران مشران منطقی سوچ کوی اوداتومی بمب دجوړولو پریکړه به ونه کړی.

دامریکی په متحده ایالتونو دترند دڅیړنیزی مؤسسی مدیر، جرالد سلنت هم په دی باوردی چی که دامریکی متحده ایالتونه په ایران داسراییلو دپوځی برید ملاتړ وکړی نودابه دیوی بلی جګړی دبایللو په معنی وی، ولی داځل به جګړه بی پولی وی. دریمه نړیواله جګړه.

له بلی خوا، داسی ښکاری چی په ایران دپراخو بندیزونو زوراوس ډیر شوی په خاصه توګه دایران په مرکزی بانک اودتیلو بندیزونو دایران دولت له جدی ګواښونو سره مخ کړی دی.

په ایران دپوځی برید ډیری مخالفین په دی هیله دی چی نویو شرایطو او داسلامی جمهوری داتومی پروګرام دلګښتونو دکچی لوړوالی ، دایران مشران داتمی انرژی دنړیوال آژانس سره د پوره همکاری لپاره وهڅوی.